AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

وینا وال: ډاکټر یاسر قاضي
ژباړن: محمد عارف رسولي

۲۰۲۰/۱۱/۰۷

# د اسلامي امت سیاسي عروج او زوال او لاملونه یې

## د ژباړن سریزه:

دا لیکنه په امریکا کې د یوه امام او د پوهنتون د استاد شیخ ډاکټر یاسر قاضي د یوې ویډیو په بنسټ لیکل شوې ده. په دې لیکنه کې په مستنده توګه د رسول الله، صحابه وو او تابعینو په دوره او ورنه وروسته د مسلمانانو صعود او پرمختګ او بیا نزول په دوو مهمو لاملونو بحث کېږي. لمړی لامل چې یې تر ټولو مهم دی، د مسلمانانو کلک ایمان او له یوبل سره مینه چې الله تعالی یې په قرآن کې ځو ځایه لکه د الفتح په سوره کې ستاینه کړې ده. خو کله چې په دې مهم فکتور کې کمښت راغی د مسلمانانو په نزول کې یې هم رول ولوباوه.
په دې لکچر کې د اسلامي امت د لوړتیا او بیا ځوړتیا په دوهم مهم لامل بحث شوی دی او دا ښودل شوي چې رسول الله (ص)، صاحبه وو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله بشري پوهه د الله تعالی ورکړه او د ټول بشریت د هڅو پایله بلله او خپل مغزونه یې د پخوانیو تمدنونو او د هغه وخت د نویو تکنالوژیو، نوښتونو، بشري پوهې، علمي تجربو او علومو په وړاندې نه وو تړلي بلکه په سړه سینه او خلاصو مغزو یې قضاوت ورباندې کاوه، ورنه زده کړې او ګټې اخیستنې ته یې لیواله او تیار وو. ښه مثال یې دادی چې رسول الله لوستو اسیرانو ته وویل چې دوی د مسلمانانو لس ماشومانو ته لیک او لوست ور وښیي ازاد به شي.
په دې لړی کې مهمه او برخلیک ټاکونکې ښکارنده دا وه چې مسلمانانو له چینایانو د کاغذ صنعت زده کړ، ورته وده یې ورکړه، په ټوله اسلامي نړۍ کې یې له اندولوسه تر منځنۍ اسیا پورې خپور کړ، او د همدې کاغذ په مرسته یې علم، سواد، د کتاب، لیک او لوست ته زیاته وده ورکړه او د بشر په تاریخ کې یې نوی باب پرانیست او د ستر واک او ځواک خاوندان شول.
د مسلمانانو د صعود په وخت کې اروپایان نالوستي او تر ډېره په خپل منځي جنګونو اخته وو. خو بیا داسې وخت راغی چې همدا د کاغذ صنعت، علم، لیک او لوست له دوی څخه اروپائیانو زده کړل، ورته لانوره پراختیا یې ورکړه او ګوتمبرګ د چاپ ماشین اختراع کړ او په برکت یې اروپا زیات پرمختګ وکړ. همدا رنګه، یاسر قاضي وایي: د مورخینو په قول مسلمانانو په اروپا کې د رنسانس او وینښتیا پروسې ته جرقه ورکړه او اروپائیانو ورته لا نور انکشاف او دوام ورکړ.
خو په دې وخت کې د مسلمانانو په تفکر او لید لوري کې ځوړتیا پیل شوې وه، د چاپ صنعت عثماني خلافت تر ۳۰۰ کاله پورې تحریم کړی و او حرام یې بالله او همغه و چې زوال یې پیل او د اروپائیانو تر ښکېلاک لاندې راغلل، د نزول پروسه یې لا اوږده شوه او نن یې موږ حالت ګورو.
باید ووایو چې د چاپ د صنعت تحریم او په اسلامي نړۍ یې بده اغیزه کومه نوې خبره نه ده او ورته زیاتو نورو مورخینو او د پراختیایي علومو کارپوهانو هم ګوته نیولې ده. ښه مثال یې هغه ترک نړیوال څېړونکی او د سیاسي او اقتصادي علومو استاد «اسمواغلو» نومېږي، د ترکیې په ګډون د اروپا، امریکا او استرلیا په اقتصادي او د سیاسي علومو په زیاتو ټولنو کې غړیتوب لرې. اسمو اغلو په خپل تر ټولو مشهور اثر « ملتونه ولې ناکامیږي» کې هم دا تحریم د مسلمانانو په تاوان ارزولی دی.
په دې لیکنه کې په دې هم لنډ بحث کېږي چې د اسلامي ټولنو په منځ کې د دوو ډلو چې ځانته روڼ اندي او دیندراه وایي تر منځ واټن ورځ تر بلې زیاتېږي او پایلو ته یې ځوک نظر نه کوي. په دواړو ډلو کې داسې فکر نشته چې موږ به څنګه یو ځای سره ژوند کوو. دا زموږ په ملک کې تر ټولو اسلامي هېوادونو ستره غمیزه ده. زموږ په هېواد کې افراط او تفریط ښه په درز کې روان دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د اسلامي تمدن صعود او نزول ته لنډه کتنه
اسلامي امت يو وخت د قدرت، پوهې، علومو او نړيوال تمدن مرکز او د هغه وخت د ټولي نړۍ د درناوی وړ و. اسلامي علمی مرکزونو ته له ټولي نړۍ خلک د زده کړې لپاره راتلل او ورنه ګټه يې اخيستله. د بشر په تاريخ کي هيڅکله انسانانو په دومره ستره ساحه کي لکه په هسپانيا کي له اندولوسه رانيولي ان تر چينه پورې دومره ستر تمدن نه وو جوړ کړی.
مسلمانان د خپل تمدن او عظمت په وخت کي په علم، د ساينس په مختلفو شعبو لکه فزيک، کيميا، رياضی، الجبر، طبابت، ادبياتو، شعر، هنر، کليګرفي او هر څه کي دومره لوړو درجو ته رسيدلي و چي د بشر په تاريخ کي دومره لوړوو درجو ته بل څوک نه وو رسيدلي.
خوبيا يې نزول شروع شو او اوس دې حالت ته راورسېدل چي د اقتصادي نظره تر ټولو ملتونو وروسته يو، د ملګرو ملتونو د نړيوال بشري انکشاف په جدول کي چي د انسانانو هر اړخيز بشري انکشاف ارزوي، په تر ټولو ټيټه کچه کي يو او يوازې يو څو ملکونو لکه کويټ، امارات او نور د ټېلو له کبله يو څه ښه حالت لري.
سوال دادی چي ولي او څه پيښ شول چي په مسلمانانو دا حالت راغی؟ دا سوال د دوکتورا په کچه زياتو علمي څېړنو او ليکنو ته اړتيا لري خو زه به دلته په يوه مهمه مسله تمرکز وکړم چي هغه د مسلمانانو تفکر او په هغو کي بدلون دی، يو وخت د اسلام د راپورته کېدو، د رسول الله او صحابه وو په وخت د هغو فکر څه و او بيا څو پېړۍ وروسته د مسلمانانو تفکر د يوې تکنالوژۍ په واسطه چي د کاغذ جوړولو او چاپ صنعت (Printing Press) دی، څنګه شو او ولي.
د مسلمانانو د عروج لاملونه
په حقيقت کي د مسلمانانو د عروج، پوهې او حيرانوونکي واک او ځواک دوه مهم لاملونه وو چي يو يې معنوي او بل يې دنيايي وو. يا په بل عبارت، يو يې خلل نه منونکی ايمان او بل دا چي د هغه وخت معاصرو غوښتنو ته چي څه فرصتونه يې وړاندې کول دوی قبول او اختيار کړل. زموږ په وخت کي دوه ډوله خلک لرو چي يو يې مذهبي او ديني خلک دي او بل يې اکاديميکي او ساينسي فکر لرونکي کسان دي او هر يو يوې خواته اړم وي او بله خبره نه مني.
د مثال په توګه که زياتو خطيبانو ته نظر وکړو يوازې وايي چي الله تعالی د مسلمانانو حالت نه بدلوي تر څو دوی په ځان او خپلو نفسونو کي بدلون نه وي راوستلی، دا حقيقت دی، خو زموږ ورنه فهم څه دی. دوی وايي ټوله څه چي موږ بايد وکړو هغه دادی چي بايد ايمان او تقوا زياته کړو، مسجد ته راشو، ښه مسلمانان شو نور هرڅه سمېږي.
بله ډله هغه خلک دي چي د ايمان، تقوا، توکل، تهجد، سجود او صلاه په هکله فکر نه کوي، وايي مسلمانانو داسي او هسي رنسانس او بيداري لرله، دا او هغه کشفيات يې کړي وو، دومره قوت يې درلود او نور، نو موږ هم بايد همدا کار وکړو نو هرڅه به بېرته سم شي او خپل تېر عظمت ته به ورسېږو. دوی استدلال کوي چي کله په اندولوس او په بغداد کي مسلمانانو تمدن او تخنيک ته مخه کړې وه، د واک او ځواک څښتنان وو، خو چي يې ورته شا کړه را وېرزېدل او خوار شول. د دوی لپاره ايمان او تقوا مهم نه ښکاري او نه معنويت ته اهميت ورکوي.
دې ګروپ ته بايد خپله تېروتنه ورپه ګوته کړو چي صحابه وو ته وګورئ چي تر ټولو زياتي ځمکي يې اسلام ته تابع کړې، خو د تکنالوجي له نظره دوی له وروستيو نسلونو زيات وروسته وو. د حديبيې تر سولي وروسته د الفتح په سوره کي الله تعالی د دوی ستاينه او د بريا راز يې په دې کي بولي چي، « دوی په خپلو منځونو کي مهربانه او په کافرانو د جنګ په وخت سخت وو، د لمانځه، رکوع او سجدې له کبله يې په مخونو کي نورانيت شتون او مسلمان ته غوسي نه کولو اثار دي».
دا په حقيقت کي د دوی له قرآن او د هغو له لمړنيو آيتونو څخه چي د لوستلو، قلم، علم او زده کړې څخه درک او هوښياري، کلک ايمان او تقوا و چي نوي نوښتونه، تکنالوژۍ او نوي فرصتونه چي نويو شرايطو وړاندې کول منل يې او ورنه، د اسلام، مسلمانانو او تر واک لاندې خلکو په ګټه يې کارول. نو په حقيقت کي دا دواړه لاملونه چي معنويت او دنيوي نوي فرصتونه او نوښتونه منل وو چي صحابه وو او تابعينو حيرانوونکي پرمختګونه وکړل.
موږ منو چي ايمان او تقوا لمړيتوب لري، موږ مخکي له دې چي ساينس او دنيوي چاروته ټوپ کړو بايد خپل ايمان او تقوا ته نظر وکړو. خو څکه چي ايمان، تقوا، عبادات او نور مو په نورو بحثونو او خطبو او موعظو کي تشريح کړي دي نو دلته يوازې ورنه يادونه کوو. خو څه چي زيات نه دي څېړل شوي دادي چي د مسلمانانو هغه مثبت اندونه او د مثبتو بدلونو، نوښتونو، د خپل وخت د مدرنېتي او نويو فرصتونو درک او منل دي. چي دا هم د مسلمانانو د پرمختګ لاملونه وو. همدارنګه کله چي دوی ورنه مخ واړاوه، په وړاندې يې خپل مغزونه وتړل، فکرونه يې محدود کړل، د نويو فرصتونو او دوخت له مدرنېتي او تمدني فرصتونو يې مخ واړاوه، نو همدا فکري محدوديت او بدلون نه منل يې د زوال لاملونه هم شول.
علم، تکنالوژي، نوښتونه، نوي مثبت افکار، د ستونزو لپاره حل لارې موندل ټول د الله تعالی پېروزينه او د کوم ځانګړي قوم او ملت کمال او حق نه دی. نو رسول الله، يارانو او تابعينو يې په خپل وخت کي علومو او نوښتونو ته په همدې سترګه کتل، خپل مغزونه يې نه ورته تړل، وربادې يې تفکر اوڅېړني کولي، دوی ته الهام قرآني آيات وو،


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

هغه چي وايي: کاينات يي له ثابت تکوين سره خلق کړي، انسان ته يي د علم، تفکر او تدبر توان ورکړی، خپل خليفه يې په ځمکه کې ټاکلی تر څو ابادي وکړي او د فساد مخه ونيسي. نو د دې غوښتنه داوه چي علم او تکنالوژي چي هر چا لاسته راوړي وي، دوی يي بايد له ګټو ځان خبر کړي او ورنه ګټه واخلي او هو له جانبي عوارضو يي ځان وساتي. له دين څخه همدا فهم و چي مسلمانانو له نورو تمدنونو زيات څه زده کړل، خپل زيات ارزښتونه يي ورباندي زيات کړل، راتلونکو نسلونو ته يي پرېښودل، اروپا او نورې نړۍ ورنه ګټه واخيستله او لاندې به ورباندي بحث وکړو. د نويو نوښتونو، پرمختګونو او تکنالوژيو يو ښه مثال نن د انټرنيټ دی چي البته زيات جانبي عوارض به لري خو کوم ملت به زړه ښه کړي چي له ګټو يي کار وانه خلي.

د کاغذ رول د مسلمانانو په پرمختګ کي

نو دلته به د کاغذ په اهميت او د هغه د مثبت رول په هکله د مسلمانانو په ژوند باندې بحث وکړو او بيا د چاپ د صنعت چي په انګليسي کي ورته (Printing Press) وايي او د هغو د نه منلو او تحريم بدې اغيزې به په مسلمانانو وارزوو. کاغذ څه شی دی؟ پوهېږو کاغذ د ليک او لوست، علم او پوهي د خورولو ترټولو مهمه وسيله ده او ځيني خلک وايي که د نړۍ ټول توليد شوي کاغذونه يو د بل تر څنګ کېږدو ټوله نړۍ به وپوښي. ځيني غلط فکر کوي چي د انټرنيټ په زمانه کي د کاغذ کارونه کم شوي خو دا سمه نه ده او څېړنو ښودلي چي تر پخوا زيات کاغذ کارول کېږي

کاغذ په لمړي ځل چينايانو په لمړۍ ميلادي پېړۍ کي اختراع کړی و خو هغوی ورنه ډېره کمه او محدوده ګټه اخيستله. چينايانو د هنر لپاره کاراوه خو د دولتي بيوروکراسۍ لپاره يي ونه کاراوه، د کاغذ ګټه يي عوامو ته ونه رسوله، بلکه يوازې د يوه خاص ګروپ کار و او پټ يي ساته، يوازې هغو کسانو ته يي کاغذ جوړول ښودل چي د دوی په ګروپ کي به وو او دا محدويت په کاغذ تر دری څلور سوه کاله پوري دوام وکړ. تر هغو مخکي ليکل په يوه ماده چي پاپايرس (papyrus) نومېده، په لرغوني مصر کي له يو ډول ګياه څخه جوړېده، ضخامت يي زيات و او لکه کمپله پېچل کېده.

د لمړي ځل لپاره قرآن کريم د خرما او نورو په پانو وليکل شو، بيا يي په پوستکي وليکه، هغه قرآن کريم چي د حضرت ابوبکر صديق په وخت کي د حضرت عمر په مکرره غوښتنه وليکل شو په پوستکي و، ځکه پاپايرس چي په مصر کي پخوا جوړېده دوی نه درلود. په پوستکي ليکلو دا ستونزه درلوده چي زيات ستر و او زيات وزن يي درلود او بل دا چي زر له منځه ته. خو کاغذ داسي خاصيت لري چي رنګ جذبوي او هم زيات دوام کوي.

کله چي مسلمانان په 751 ز کال د عباسيانو په لمړيو وختو کي تر چينه ورسېدل او له چينايانو سره په جګړه کي په هغه سيمه کي چي « قلعه» نومېده په اوسني قرغيزستان کي ونښتل او دا جګړه له سياسي نظره کومه مهمه ستراتيژيکه جګړه نه وه، په تاريخ کي زياته نه ده راغلي، خو د تاريخ مسير يي ځکه بدل کړ چي د کاغذ جوړولو هنر مسلمانانو ته په لاس ورغی. مسلمانانو په دې وخت کاغذ ليدلی و خو په جوړولو يي نه پوهېدل. په دې جنګ کي مسلمانانو يوه وړه سيمه ونيوله او دوه کسان يي ونيول چي کاغذ يي جوړولی شوی. دا دوه کسان يي له يوه وسله وال ګروپ سره په زيات اعزاز د خلافت مرکز بغداد ته واستول. خليفه چي خبر شو ورته ويې ويل چي تاسو يوازې د کاغذ جوړولو صنعت او هنر موږ ته راوښيئ نو زر به ازاد شئ. دا راښيي چي مسلمانانو څومره زياته تنده درلوده چي له نا مسلمانو څخه پوهه او کومه نوې تکنالوژي، نوښت او صنعت زده کړي.

خليفه د رسول الله په څېر د علم او پوهي په اهميت ښه پوه و. زموږ په ياد دي چي د بدر په غزوه کي رسول الله له نيول شوو اسيرانو چي لوستي و وغوښتل چي د پيسو په ځای چي له بنده د ازادېدو په هغه وخت کي ښه وسيله وه، د مسلمانانو لسو تنو ماشومانو ته ليک او لوست ورزده کړي بيا به ازاد شي او همداسي يي هم وکړل. دا ځکه چي هغه وخت لوستي کسان په عربو کي په مدينه کي خورا کم و او رسول الله د وحيي له برکته د ليک او لوست او پوهي په اهميت پوره پوه و. يوه پېړۍ وروسته خليفه په بغداد کي همداسي ورته يو کار وکړ چي چينايي اسيران يي د کاغذ د صنعت او هنر په ښودلو سره له بنده ازاد کړل.

تر هغو وروسته کاغذ په بغداد، سمرقند او نورو ښارونو کي زيات شو او د پاپايرس ځای يي ونيوه. له بلي خوا، د هغه وخت ليکني چي په پاپايرس باندې شوي وې اوس يا تخريب شوې او يا ډېرې کمي دي او هغه هم په لندن، پاريس او ځيني په قاهره کي په موزيمونو کي دي، موږ د ابن هشام لمړی د سيرت ليکني په دې ماده کي يو څو ټوټي لرلي خو موږ کوم مکمل کتاب په هغه ماده کي نه لرو. نو موږ پوهېدی شو چي په هغه وخت کي کتاب او لوست د عوامو لپاره ارومرو ناممکنه خبره وه.

د لمړي ځل لپاره خليفه عباس ابن منصور په ۷۵۴ زدېز کال کي امر وکړ چي ټوله بيوروکراسي، اسناد، ماليه، ذکات، خراج، مکاتيب، يادښتونه او هر څه د لمړي ځل لپاره په کاغذ وليکل شي. په دې وخت د کاغذ لمړۍ فابريکه له چينه څخه بهر په سمرقند او بيا په بغداد، دمشق او ورپسي په نورو ښارونو کي زيات شو. نو د کاغذ کلمه هم له په اصل کي له چينه رانقل شوې ده او راښيي چي د چينايانو څخه مسلمانانو زده کړې.

مسلمانان د کاغذ په اهميت پوه وو، کاغذ په پوهه او علم کي ستر انقلاب رامنځته کړ. يو له هغو کسانو څخه چي دا مسله يي ياده کړې ده ابن خلدون دی. ابن خلدون لمړی اجتماعي تاريخ پوه دی، هغه لمړی عالم دی چي د ملتونو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

عروج او زوال یې د ټولنیزو عواملو په رڼا کې ارزولي دي، هغه ان په غربي نړۍ کې د ټولنپوهنې پلار او بنسټګر بلل کېږي. ابن خلدون وروسته ولیکل چې کاغذ د علمي لیکنو لپاره وکارول شو. کاغذ د ټولنیز بدلون، په علومو، هنر، ښوونه او روزنه، سواد، اسلامي علومو، او هر څه کې د مثبت بدلون سرچینه وه. کله چې مسلمانانو کاغذ کارول خپل او رواج کړل، دوی زیاتو نورو مهمو پرمختګونو ته لاسرسی وموند. کتابونه یې ولیکل، د یوناني او نورو اثار ژباړل یې پیل کړل او دا په حقیقت کې د اسلامي نړۍ د رنسانس او عمومي ویښتیا لامل شو.
دا په زړه پورې ده چې پوه شو د هغه وخت کاغذونه د جوړوونکو په نومونو له سلیماني، احمدي، جعفري او نوراني کاغذونو په نامه یادېدل، چې له ښه کیفیت څخه برخمن وو. په چین کې کاغذ په زیات ساده او بسیط شکل او خورا کم جوړېده او یوازې معتبرو کسانو ورته لاسرسی درلود. خو مسلمانانو کاغذ عام کړ، هر چا ورته په ټوله سیمه کې لاسرسی وموند. د کاغذ د عاملو تر شا د کتاب، علم او پوهې عامول و، څنګه چې علم د یوه وړوکي پاړکي له انحصاره بهر شو او عوامو ورته لاسرسی وموند، ټولنیز پرمختګ او تمدن هم لوړو درجو ته ورسېد او مسلمانان په نړیواله کچه د فکر، واک او ځواک خاوندان شول.
پاپایرس داسې جوړېده چې تاوېده او پېچل کېده خو دومره زیات کاغذ پېچل عملي او ګټور نه و. نو دوی شروع وکړه د کاغذ بنډل چې له عربي کلمې رېزمه څخه مشتق او ورنه « ریم» یې جوړ کړ چې دا هم عربي کلمه ده او نن هم د کاغذ بنډل ته په نړۍ کې ریم وایي. دوی د کاغذ د ریم د یوځای ترلو (binding) هنر زده کړ، ورته یې له کلک کاغذ څخه وقایې جوړې کړې او د اوسني کتاب شکل یې غوره او اختیار کړ. په لنډ ډول د اوسني کتاب پیدا کېدل په اسلامي نړۍ کې د کاغذ تر انکشاف، ډېربښت او کاروني وروسته رامنځته شو. دوی د کتاب په څنګ/بغل د کتاب نوم لیکل پیل کړل، خو کتابونه یې د اوس په څېر څنګ په څنګ نه درول بلکه یو په بل برسېره یې ایښودل او په دې ترتیب یې د خپلې خوښې کتاب د نورو له منځ را ایسته. نو د اوس وخت د کتاب او کتابتون جوړول هم د مسلمانانو کار دی.
کاغذ او د علومو، علمي اثارو، فرهنګ او فکري پرمختګ په اسلامي نړۍ کې
کاغذ چې لیک او لوست، علوم، مطالعه، درس او تعلیم، کتاب ته لاسرسی، علمي بحثونه او ستر علمي مرکزونه په اسلامي نړۍ کې عام او خواره کړل، په عالم اسلام کې ستر کلتوري، فکري، اقتصادي او هر اړخیز تحول راغی. د خلکو سیاسي، دیني او ټولنیز شعور زیات لوړ شو او همدا لامل شو چې هغوی په نړۍ کې د علم او فکر مرکز او د واک او ځواک خاوندان شول. دوی د چین، هند، د مصر د اسکندریې او یونان اثار ټول عربي ته وژباړل او په دې پروسه کې ستر ستر عالمان لکه ابن الهیسم، ابو موسی، جابر بن حیان، ابن سینا، فارابي، ابو ریحان البیروني او زیات نور په اسلامي نړۍ کې راپورته شول. په طبابت، ساینس، کمیا، فزیک، ادبیاتو، کلام، ډسکورس او دیالوګ او نورو کې ستر نابغه شخصیتونه وروزل شول او ستر تمدن یې رامنځته کړ، په دې وخت کې د پوهنتون، په شفاخانې کې د جلا وارد، او نورو مقررات رامنځته شول، دوی په کیمیا، نوري فزیک، الجبر او نورو کې زیات پرمختګ او اختراعات وکړل، دوی صفر او د اوسنیو اعدادو لړۍ چې له 1 تر 9 رامنځته کړل او دا د Arabic) Numerals)عربي اعدادو په نامه اوس هم په انګلیسي کې پېژندل کېږي، چې د رومي اعدادو ځورونکی سیستم یې په داسې یوه سیستم واړاوه چې د اوس زماني کمپیوټري او خصوصا ډیجیټلي انقلاب ته یې لاره اواره کړه چې بې له دې اعدادو او صفره نا ممکن کار و. په دې وخت کې چې مسلمانان خپل عظمت ته رسېدلي وو، خو غربي نړۍ په تیاره دوره کې وه، له کتاب سره څه چې له لیک او لوست سره نا آشنا وه.
د ژباړن یادښت: « د ژباړن د سترګو او په خپلو غوږو اورېدلې کیسه او حال: ما د امریکا په یوه پوهنتون کې درس لوست، درسي کتاب مو د نړۍ تمدن (the World Civilization) و، زموږ استاد یو آیرلندی کس و چې له تاریخي حقایقو سره یې مینه لرله، یوه ورځ یې خبره کوله چې په هغه کتاب کې هم وه: په منځنیو پېړیو کې په اروپا کې جنګونه وو، ځینې قبیلې د باربرین په نامه یادېدې، دوی به چې په رقیبه قبیله یرغل وکړ، د ماشومانو، ښځو او بوډاګانو په ګډون به یې ټول قتل کړل. په دې وخت یوه مسلمان عرب ژورنالیست چې په اندولوس کې په هسپانیا کې و، د دوی په هکله ولیکل: د دې خلکو بدنونه زیات غټ او مغزونه یې خالي دي. استاد بیا نور تشریحات هم ورکړ«.
د غربي نړۍ له کاغذ او د کاغذ له لارې له مدنیت سره بلدتیا
بیا وروسته غربي نړۍ له دوو دریو لارو له کاغذ سره آشنا شوه. یو د نهو صلیبي جنګونو څخه په لمړي جنګ کې کله چې اروپائي صلیبي قوتونو بیت المقدس اشغال کړ، دوی بې له کوم دلیله اسلامي خاورې اشغال کړې. دا لمړی ځل و چې دوی له مسلمانانو، د هغوی له تمدن او په ځانګړې توګه له کاغذ او د مسلمانانو په مرسته یې له کاروني، د دوی له کتابونو، دفترونو، ثبت او راجستر او علومو سره بلد شول. په هغه وخت کې د نړۍ زیات خلک به چې چېرې زېږېدل زیات به یې تر مرګه له خپلې سیمې نه وتل، نو اروپائیان هم تر دې وخته د مسلمانانو له حالته او پرمختګونو خبر نه وو.
په لمړي ځل په اروپا کې د اندولوس په شمال کې لمړی د کاغذ جوړولو فابریکه هسپانوي صلیبیانو له مسلمانانو په هغه سیمه کې چې له تولیدو ښار څخه زیات واټن نه لري او د مرسیبه ښار ته نېږدې ده او « یسیوه » نومېږي په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۱۵۱ میلادي کال ونیوله. په اندولوس کې زیات وتلي مسلمان او یهود عالمان او کارپوهان وو چې په علومو، تجارت، صنعت، طبابت او نورو رشتو کې یې لوی لاس درلود.
کله چې اندولوس او ورڅېرمه نور هغه ښارونه او سیمې چې د مسلمانانو تر ولکې لاندې وې بیا هسپانویانو ونیول او هلته مسلمانان، یهودیان او عیسویان د اسلام تر سیورې لاندې سره یو ځای اوسېدل. هسپانویانو یهودو او مسلمانانو ته درې انتخابه ورکړل: یا باید عیسوي شوي وئ، یا به وژل کېدی او یا به یې کډه کوله. نو مسلمانانو او یهودیانو د اروپا نورو ملکونو ته لکه جرمني او انګلستان ته کډه وکړه. تاریخ شاهد دی چې دې ملکونو له دې کار پوهانو زیاته ګټه پورته کړه او
زیات علوم یې د لیک او لوست په ګډون ورنه زده کړل. د تمدن تاریخ پوهان هسپانویان احمقان بولي چې له وتلو عالمانو، کارپوهانو او متخصصو کسانو یې کار وانه خیسته، په کډه کولو یې مجبور کړل، او نورو ملکونو ورنه زیاته ګټه او زده کړه وکړه.
کله چې اروپائیان په اسلامي خاوره کې له کاغذ سره بلد شول، د هغو په اهمیت او کارونه یې سر خلاص شو خو نه پوهېدل چې څنګه یې جوړ کړي او سخته علاقه یې ورسره پیدا شوه. په دې وخت کې دوه سیمې چې پخوا په پېړیو د مسلمانانو تر واک لاندې وې خو د لمړي صلیبي جنګ ته نېږدې وختو کې چې په 1085 میلادي کې اروپائیانو ونېولې او هغه اندولوس په هسپانیا کې او سیسیلي ټاپو ایټالیا ته ورڅېرومه او تر دوو سوو (۲۰۰) کالو د مسلمانانو تر تسلط لاندې وې. سیسیلي په اروپا کې د اسلامي تمدن په انتقال کې اروپا ته او په اروپا کې د رنسانس یا عمومي ویښتیا په رامنځته کولو کې زیات رول درلود. څکه لمړي راجر (Roger the First) چې ایټالیاوی او سیسیلي یې په « ۱۰۸۲ ز» کال له مسلمانانو ونیوله او له مسلمانانو سره خورا نرم چلند وکړ، په عربي یې خبرې کولې، او مسلمان او یهودي کارپوهان یې د وزیرانو او مشاورینو په توګه په کار وګومارل، د ماهرینو او عالمانو له پوهې یې زیاته ګټه واخیسته. لمړي راجر داسې تغیرات راوستل چې د منځنیو پېړیو اروپائیانو په افکارو یې زیاته مثبته اغیزه وکړه او رنسانس یا عمومي ویښتیا ته یې زیاته ګټه ورسوله او چټکتیا یې وروبښله.
سیسیلي ټاپو چې د اروپا مرکز او د ایټالیا ساحل ته نېږدې پرته وه، له اندولوس څخه یې په اروپا کې زیات د بېدارۍ اثر پرېښود. په سیسیلي او اندولوس دواړو کې مسلمانانو کاغذ جوړول او ورنه کار اخیستل دود کړي وو، زیاتو کسانو شخصي کمپنۍ لرلې چې ښه کیفیت کاغذ یې جوړاوه او دا صنعت په کې زیات پرمختللی و. نو کله چې اروپائیانو سیسیلی او اندولوس له مسلمانانو ونیول د کاغذ جوړولو صنعت او کارول یې له مسلمانانو زده کړل او له سیسیلي څخه یې لنډ ایټالیا ته دا تحول راوړونکی صنعت انتقال کړ. ایټالویانو د کاغذ صنعت ته لا زیاته وده ورکړه، کیفیت او ظرافت یې نور ښه کړ. دوی چې زیاته مساعده څمکه او سیندونه لرل د اوبو په مرسته یې د کاغذ جوړولو فابریکې (Paper Mills) جوړې کړې چې داسې شرایط مسلمانانو او په تیره عربانو نه درلودل. نو اروپائیانو او خصوصا ایټالویانو تر مسلمانانو ښه کیفیت لرونکي کاغذ جوړ کړل.
دا وخت د لمړي ځل لپاره شرایط بدلېږي، لړ پخوا کاغذ یوازې د مسلمانانو په ملک کې تولید کېده، بې له مسلمانانو د چینایانو په شمول کاغذ د لیک او لوست لپاره چا نه پېژاند، خو په دې زماني پړاو کې ښه کاغذ په اروپا کې جوړېده. په لسمه او یولسمه پېړۍ کې اروپائیانو د کاغذ فابریکې له مسلمانانو واخیستې او بیا یې خپله دا کاغذ زده کړ، خورا زیات یې کړ او هم یې کیفیت خورا ښه کړ. په دولسمه او دیارلسمه پېړۍ کې دوی د کاغذ په جوړولو کې سیالي کوي او په څوارلسمه پېړۍ کې دوی تر مسلمانانو ښه کاغذ جوړوي. د څوالسمي پېړۍ په پیل کې په حیرانتیا سره کاغذ له اروپا څخه اسلامي ملکونو ته راوړل کېږي. اروپائیانو هغه کار وکړ چې تقریبا شپږ پېړۍ پخوا مسلمانانو کړی و، دوی د کاغذ صنعت له مسلمانانو زده کړ، نوره وده یې ورکړه او لوړ معیار ته یې ورساوه. یو څه چې اروپائیانو وکړل دا و چې په کاغذ کې یې (واټر مارک) ورزیات کړ، تر نن ورځې پورې که تاسو کوم د لوړ کیفیت لرونکی کاغذ پېرئ نو که یې رڼا ته ونیسئ تاسو یوه نښه وربانديې لیدئ شئ. دې تخنیک مرسته وکړه چې د کاغذ د جوړولو، ځای، فابریکه او کیفیت یې په کاغذونو کې ورزیات کړ، چې پخوا دا کار مسلمانانو نه و کړئ.
له اروپا څخه کاغذ اسلامي نړۍ ته راځي
د 1400 میلادي کلونو وروسته زیات اسلامي کتابونه په اروپایي کاغذونو ولیکل شول څکه کیفیت یې ښه و. که تاسو د ښه کیفیت کاغذ رڼا او لمر ته ونیسئ، درته نښه یې ښکاري چې څه وخت او چېرې جوړ شوی. نو په پنځه لسمه او شپاړسمه پېړۍ کې ټول کاغذونه له اروپا څخه راتلل او په اسلامي نړۍ کې ټولې فابریکې سقوط او صنعت یې له منځه ولاړ. په 1340 کال یو قرآن کریم په ډېر لوړ کیفیت لرونکي ایټالوي کاغذ لیکل شوی دی او اوس هم شته. نو ټول مهم اسلامي اثار په دې وخت په ایټالوي کاغذ لیکل کېدل، خو د حیرانتیا ځای دادی چې په داخلي نښه کې یې د صلیب علامه یا نښه هم نقش شوې وه. نو د هغه وخت قرآن په داسې کاغذ لیکل کېده چې د صلیب نښه به په کې نقش شوې وه. ټول خطي اسلامي اثار چې نن موږ لرو په ایټالوي کاغذ لیکل شوي او په دې ترتیب د شپاړسمې پېړۍ په پیل کې د کاغذ صنعت له اسلامي نړۍ ورک شو. لامل یې دا وه چې له اروپا څخه د ښه کیفیت کاغذ په لړ بیه راته نو طبیعي خبره چې په اسلامي نړۍ کې یې د کاغذ صنعت سقوط کاوه.
په اروپا کې د کاغذ ډېرېدل او د ګوتمبرګ د چاپ ماشین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نو کله چې په اروپا کې کاغذ زیات شو، نو څه ورسره کول په کار و. دلته ده چې متفکرینو لکه جرمني ګوتمبرګ وربانديې فکر کاوه چې څنګه له دې سمه ګټه واخلي. نو ګوتمبرګ چې یو نبوغ لرونکی انسان و، شرایط هم ورته برابر شول، تر زیاتو هڅو او فکرونو وروسته یې د چاپ ماشین اختراع او د چاپ صنعت ( Printing Press) یې رامنځته او وده یې ورکړه. ګوتمبرګ فکر وکړ چې ولې د لیکلو په ځای حروپ په تخته باندې نصب نه کړي او عین ورقې او کتاب بیا بیا هر څومره ځلې چې وغواړي په زیاته شمېر کې چاپ نه کړي.

په دې کې شک نشته چې د چاپ صنعت د بشریت په تاریخ کې یو له مهمو اختراعګانو و چې د عرابې (Wheel) له کشف سره سیالي کوي. دې صنعت هر څه بدل کړل او د لانورو زیاتو بدلونونو لپاره یې لاره اواره او شرایط برابر کړل. خو دا ناممکنه ده چې د چاپ صنعت د بېله کاغذه رامنځته شوی وی نو کاغذ هم د بشریت په پرمختګ کې همداسې یو اهمیت لري. تر کاغذ مخکې ځینې لیکنې په پوستکي کېدلې، خو پوستکی زیات ذخیم، قیمته او په لنډه او ساده توګه د چاپ لپاره وړ نه دی او نه وربانديې لیکل دوام کوي. نو که مسلمانانو کاغذ تر هغې کچې نه وای رسولی د چاپ ماشین او صنعت به نه رامنځته کېدل او یا به په زیات ځنډ رامنځته کېده.

کاغذ، د چاپ صنعت او کتاب په اروپا کې خوربېږي

د ګوتمبرګ تر اختراع وروسته په یو څو لسیزو کې د چاپ صنعت په ټوله اروپا کې خور شو. د پېړۍ په بدلېدو کې په 1500 ام زېږدیز کال شاوخوا کې درې سوه (300) اروپايي ښارونو ته د چاپ صنعت رسېدلی و. د پنځه لسمې پېړۍ په پای کې 20 میلیونه چاپ شوي کتابونه په اروپا کې پلورل شوي وو. دا داسې یو ځاي او تمدن و چې یوه پېړۍ مخکې یې لیکل او لوستل نه وو زده. دا داسې یو تمدن و چې یوه پېړۍ مخکې کې که چا د ساینس کوم کتاب درلودی کاتولیک کلیسا بې مرګه نه پرېښود. خو د چاپ د صنعت په راتلو هر څه بدلون وموند. تاسو فکر وکړئ څه واقع کېږي چې تاسو د ساینس، فلسفې، اخلاقو، تاریخ او نور کتابونه په ټولنه کې خواره کړئ. که تاسو دا کتابونه او نور خواره کړئ او تر خلکو یې ورسوئ خلک به زیات تعلیم او سواد تر لاسه کړي.

کولمبس امریکا کشف کړه خو څرنګه چې اروپائیانو ته د چاپ، کتاب خپرولو اهمیت روښانه شوی و په مکسیکو ښار او د شمالي امریکې نورو ښارونو کې که څه هم له تمدن څخه زیات وروسته پاته وو د چاپ صنعت په یو څو لسیزو کې عام شو.

د اسلامي نړۍ حالت او څوړتیا

اوس سوال دادی چې په اسلامي نړۍ کې په دې وخت کې څه پېښ شول؟ په اسلامي نړۍ کې په خواشینۍ سره څوړتیا، فکري تحجر او د نویو تحولاتو او بدلونو په وړاندې د مغزونو تړل پیل شوي وو. یو وخت به چې دوی نوښت، تکنالوژي، او مثبت کارونه لیدل قبلول به یې، وده به یې ورکوله او لا نور به یې ښه کول، تر نورو خلکو او راتلونکو نسلونو به یې رسول خو دا وخت یې حال بدل او هر څه یې په منفي خوا روان وو. مسلمانانو د شلو کلونو په موده کې د دې کتابونو د ډېرښت په هکله اورېدل او کتل یې چې په تېزۍ او سحر امېزه توګه نړۍ وربانديې ډکېده، خو څه یې ورنه زده نه کړل.

کله چې مسلمانان په لمړي ځل د چاپ صنعت سره مخامخ شول، بندیز یې وربانديې ولګاوه. په 1485 ز کال عثماني خلیفه دوهم بایزید د چاپ صنعت حرام وباله او بندیز یې وربانديې ولګاوه، ویې ویل چې اجازه نه ورکوي چې تر عثمانی خلافت لاندې اسلامي خاورې ته یې څوک راوړي او دی د هغه وخت د دیني عالمانو لخوا هم په دې تحریم کې حمایه کېده. سلطان امر وکر چې نه یوازې د چاپ صنعت او ماشین راوړل منع دي بلکه هغه کتابونه چې وربانديې چاپ شوي هم منع دي او څوک یې د عثماني خلافت ساحې ته نه شي راوړلئ. په 1515 ز کال د دوهم بایزید ځای ناستي سلطان سلیم امر وکړ که له هر چا سره د عثماني خلافت په قلمرو کې د چاپ په ماشین سره چاپ او جوړ شوی کوم کتاب وموندل شي په مرګ به محکوم او اعدام به شي. د اعدام جزا د قتل، زنا او د چاپ په ماشین، د چاپ شوي کتاب په لرلو ورکول کېده.

عثماني خلافت ته د یهودو مهاجرت او ورته د چاپ د صنعت اجازه غوښتل

په 1494 ام کال له اروپا نه زیات یهودو عثماني خلافت ته مهاجرت وکړ، یهودو عثماني سلطان ته عریضه وکړه چې دوی په اندولوس کې د چاپ غوره صنعت او فابرېکي لري، اجازه یې وغوښتله چې دوی یې راوړي او ورنه کار واخلي. سلطان ورته وویل، هو رایې وړئ خو شرط به دا وي چې یوازې به یې تاسې د خپلو لیکنو او کتابونو د چاپ او خپلو اولادونو د تعلیم لپاره په خپله ژبه کاروئ او مسلمانانو ته به یې نه ورکوئ او نه به یې ور پلورئ. نو له همدې کبله یهودانو او عیسویانو د عثماني خلافت په قلمرو کې د چاپ صنعت درلود او د خپلو خلکو د لوړتیا لپاره یې زیاته ګټه ورنه واخیسته.

دا یو تصادف نه و چې د عثماني خلافت په قلمرو کې وروسته یهود او عیسویان تر ټولو عالم او کارپوه خلک، اشراف او بیوروکراته طبقه وو، تقریبا ټول ډاکتران او انجنیران یهود او عیسویان وو، دا وخت لکه پنځه سوه کاله مخکې نه و چې ابن سینا په نړۍ کې په طبابت کې سرلاری و، اوس په خواشینۍ سره هر څه بدل وو. دا د حیرانتیا ځای نه وو ځکه چې دې مهاجرو یهودو تعلیم ته لاسرسی درلود چې په خواشینۍ سره مسلمانان دا وخت ورنه محروم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وو، دا خلک د تعلیم په اهمیت پوهېدل، په خپلو اولادونو یې پانګونه کوله او ځکه عام او متوسط یهودان او عیسویان په عثماني خلافت کې له متوسط پاړکي نه خورا لوړ او له اشرافو څخه شول.
د چاپ د همدې تحریم له کبله تر ټولو لمړی قرآن کریم چې په عربي ژبه چاپ شو د مسلمانانو لخوا نه دی چاپ شوی بلکه د غیر مسلمانو له خوا په ایټالیا کې په کال 1537 ام ز کال د ځان د پوهېدو لپاره چاپ شوی او نه یې غوښتل له قرآن څخه بې خبره وي. ځکه مسلمانانو نه غوښتل چې په دې کې ګډون وکړي.
باید یوه شو چې ایټالیا تر ټولو زیات له مسلمانانو او اسلامي تمدن سره آشنا شوه، د مسلمانانو د افکارو تر نفوذ لاندې وه او ورنه ګټه یې واخیسته نو ځکه ایټالیا په اروپا کې د رنسانس او بېدارۍ مرکز شو. باید دلته ووایو چې مسلمانانو رنسانس، بېداري او تمدن ته جرقه ورکړه او ایټالویانو او نورو اروپائیانو نوره پراختیا هم ورکړه او لوړو درجو ته پورته شول.
که تاسو د اروپایي کلتور او رنسانس په هکله معلومات لرئ، یو شمېر مهم داستانونه او کیسې او په بنسټ یې فلمي سریالونه، قهرمانان یې او محرکه قوه یې، اسمان ته ختل او له جنت او دوذخه ځان خبرول چې مهمه برخه یې د (Devine Comedy)سپېڅلي کومېډي په نامه لړی ده. دا یو ښه پېژندل شوی حقیقت دی چې د دې کیسو او داستانونو سرچینه د اسلام د پیغمبر د معراج ته ختلو له داستانو او په اسلامي نړۍ کې د هغو له فلکلوریکو کیسو سرچینه اخلي او په اروپا کې له وینېتیا او رنسانس سره ټینګه اړیکه لري او همدې اسلامي فرهنګ ورته د 1370 ز کال په شاوخوا کې د راټوکېدو لاره اواره کړه. دلته موخه داده چې د مسلمانانو د فرهنګ او فلکلور اغیزه د هغه وخت په ایټالیا او بیا اروپا وښیو. دا عادلانه نه ده چې په اروپا کې موږ د وینېتیا او رنسانس کرېډټ ټول مسلمانانو ته ورکړو بلکه حقیقت دادی چې مسلمانانو وینېتیا، رنسانس، تمدن، ساینس او علومو ته جرقه ورکړه او اسلامي تمدن په اروپا کې د رنسانس تومنه شو او اروپائیانو دا ښکارندې له مسلمانانو زده او واخیستلې او تر لوړو کچو یې ورسولې.
زیاتي پېرۍ داسې فکر کېده چې دا لمړی چاپ شوی قرآن کریم چې پورته یاد شو، له منځه به تللی وي. خو په 1980 ام کال کې دا کاپي د یوه شخصي ساتونکي سره د ایټالیا په فلورانس ښار کې وموندل شوه او اوس شتون لري. د دوهم ځل لپاره قر آنکریم په 1694 ز کال د جرمني په هامبورګ ښار کې د ابراهام لینکن یهودي لخوا چاپ شو او دا اوس هم موجود دی. دریم قرآنکریم په روسیه کې چاپ شو او په خواشینۍ سره مسلمانانو ورته پام نه کاوه او سخت د غفلت په خوب ویده وو او د چاپ صنعت یې حرام باله. لکه مخکې مو چې وویل په عثماني خلافت کې اوسېدونکو یهودو او عیسویانو د 1520 او 1540 کلونو تر منځ د چاپ صنعت ته وده ورکړه، خو هغوی په عربي علمي ژبه چې د عثماني خلافت د دربار ژبه وه د چاپ حق نه درلود. بلکه یهودانو یوازې په خپلو پخوانیو او ځایي ژبو وربانديې لیکني او کتابونه د خپل ځوان نسل د تعلیم او خپلو خلکو د سواد او پوهې د کچې لوړولو لپاره چاپول او د دوی صنعت مسلمانانو ته کومه ګټه نه رسوله.
څه وخت په عثماني خلافت کې د چاپ صنعت ته نیمګړې اجازه ورکړل شوه؟
په دې وخت کې په عثماني خلافت کې طبیعي ده ځینې علما او منورین د چاپ په اهمیت پوهېدل، وړاندیزونه یې هم کول خو حکومتي سیستم مطلقه العنانه و او د چاپ اجازه یې نه ورکوله. په پای کې د خلکو وینېتیا او غوښتنه او د وخت تقاضا د حاکم پاړکي ذهنیت کې هم یو څه کمه اغېزه او توپیر رامنځته کړ. د لمړي ځل لپاره یو هنګری الاصله عالم چې په اصل کې عیسوي تولد شوی و بیا مسلمان شوی و او لوړو درجو ته ان تر وزارته پورې په عثماني خلافت کې رسېدلی و او ابراهیم متفرکه نومېده په 1720 کال یې د عثماني خلافت ستر مفتی ته عریضه وکړه او د چاپ د صنعت اړتیا یې په عثماني خلافت کې په روښانه ټکو په ګوته کړه چې دوی د چاپ صنعت ته اړتیا لري.
په دې ترتیب تر دری سوه کاله وروسته چې ګوتمبرګ په اروپا کې د چاپ صنعت خور کړ په اسلامي نړۍ کې د عثماني خلافت په حاکمیت کې دا لاره اواره شوه چې یو عالم لوی مفتي ته وایي چې د خدای لپاره ویښ شئ او د چاپ صنعت ته اجازه ورکړئ. ابراهیم یو کتاب ولیکه چې «وسیلة الطباعه» نومېده او مفتي ته یې ورکړ. په دې کتاب کې هغه استدلال وکړ چې یو هغه لامل چې اروپا په علومو، تمدن، صنعت او نورو کې دوی ته راورسېدل او بیا ورنه مخکې شول همدا د
طباعت او چاپ وسیله وه، ځکه اکثریت مسلمانان بې سواده او وروسته او بېوزلي پاته شول او په مقابل کې اروپائیان د کتاب او سواد له برکته لوړو درجو ته پورته شول. بېځایه غرور او ړوند تحلیل د انسانانو سترګې ړندوي، له حقایقو یې لېرې ساتي. په همدې اساس تر ۱۷۲۰ کاله پورې عثماني ترکانو فکر کاوه چې دوی به بیا غالب او اروپائیانو او عیسویانو ته به ماته ورکړي. خو ورو داسې علایم راښکاره شول چې د عثماني خلافت زوال یې ښوده.
په پای کې د عثماني خلافت ستر مفتي پرېکړه وکړه چې د چاپ صنعت ته مشروطه اجازه ورکړي خو درې شرطه یې کېښودل:
.1لمړی شرط، په عربي به هېڅ لکنه نه چاپوي؛
.2دوهم شرط دا و چې چاپ شوي مواد به د اسلام له دین سره کومه اړیکه نه لري، د اسلام د تاریخ، تفسیر، سیرت، احادیثو او هېڅ دیني مسله کې به کومه لیکنه نه چاپوي؛


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

3.دریم شرط دا و چي حکومت به هر چاپ شوی کتاب وروسته له غور اوکتني تاییدوي او د تایید تر مهر وروسته به اجازه ورکول کېږي او تر دې دریو شرطونو عدول بیا هم د محکومیت او اعدام لامل و.
نو دلمړي ځل لپاره په کال ۱۷۲۶ د ګوتمبرګ د چاپ تر اختراع وروسته « ۳۰۰» کاله وروسته ځینو سیکولر، ساینسي، د طبابت او نورو غیر دیني کتابونو ته د چاپ اجازه ورکړل شوه. دلته خورا روښانه ده چي د مسلمانانو سایکېک او فکري حالت یې نه شو بدلولی، ځکه په اسلامي علومو کي یې هېڅ کوم کتاب نه شوی چاپولی چي د مسلمانانو ټولنیزه، سیاسي او دیني پوهه زیاته کړي.
ټولې نړۍ ته د مکسیکو او سویلي امریکي په ګډون په لېږي پرتو وړو ښارونو کي د چاپ صنعت خور شوی و، خو عربي او اسلامي نړۍ، چي یو څو پېړۍ مخکي د نړۍ د علومو مرکزونه و لکه دمشق، بغداد، قاهرې او نورو اسلامي ښارونو ته لا د چاپ صنعت نه و راغلی چي په نتیجه کي یې عامه مسلمانان له کتاب، سواد، لیک او لوست څخه محروم پاته شوي وو. په اسلامي نړۍ کي فکري قوه، علمي تحلیل او د پرمختیایي وسیلو منل له سقوط سره مخ و، خامخا به ځیني عالمانو زړه خواړه او وربانديې به پوهېدل او ځورېدل به خو څه یې نه شوای کولی ځکه حاکم نظام اجازه نه ورکوله.
دا څو پېړۍ همداسي یو وخت و چي په اسلامي نړۍ کي زیات منفي او ملا ماتوونکي بدلونونه راغلي وو، خو زیات شمېر مسلمانان نه وربانديې پوهېدل، هغه څوک چي پوهېدل چاپي خبره نه منله.
په اسلامي نړۍ کي لمړی د چاپ ازاد صنعت
د لمړي ځل لپاره په اسلامي خاوره کي د چاپ ماشین په ۱۷۹۸ کال کېښودل شو، خو بیا هم په خواشینی سره د مسلمانانو په لاس او د اسلامي دولت په اجازه دا کار و نه شو بلکه د استعماری قوتونو تر لمړي اشغال وروسته د ناپلیون بوناپارت په واسطه دا کار وشو او دا هغه وخت و چي غربي استعمار او ښکېلاک نوی پیل شو. کله چي ناپلیون مصر اشغال کړ د چاپ ماشین یې له ځان سره په کښتۍ کي راوړ او د چاپ صنعت یې په اسلامي خاوره کي بناکړ.
ابن خلدون وایي: په ټولنو او ملتونو کي د زماني په تېرېدو که کوم مثبت کار ونه شي کله کله زیات منفي بدلونونه راځي چي کم څوک وربانديې پوهېږي او کوم کم کسان چي وربانديې پوهېږي هغو ته څوک غوږ نه نیسي. د یوې ټولني او ملت خلک ځانته د پخوا اټکل کوي خو د مختلفو پېچلو لاملونو له کبله سیاسي او ټولنیز شعور یې زیات ځپل شوی وي او زیات بدلون په کي راغلی وي. دې ته ورته، د حیرانتیا خبره خو داده چي کله ناپلیون مصر اشغال کړ د مملوک کورنۍ امپراتوري چي اوه پېړۍ یې حکومت کړی و، د مغولو چپاولګرانو ته یې ماته ورکړې وه، لا په قدرت کي پاته وه. خو همغه قدرتمنده امپراتوري داسي حالت ته راغلي وه چي د یو څو ورځو لپاره یې هم مقاومت ونه کړ او ناپلیون په یوه اونۍ کي ټول مصر ونیو.
ناپلیون چي له خپلو لښکرو سره راغی په همغه کښتۍ کي یې د چاپ ماشین هم ورسره راوړ او په لمړي ځل یې د دولت له کنټروله بهر د چاپ ازاد صنعت رامنځته کړ. ایا دا د خواشینۍ ځای نه دی؟ خو دا یو واقعیت دی. همدا رنګه هر اشغال دوام نه کوي، تاسو یو ملک اشغالولئ شئ لکه افغانستان او عراق نو بیا به څه کېږي، دا مهمه خبره ده باید خلک وربانديې پوه شي. ځکه چي خلک ونه غواړي اشغال دوام نه کوي. کله چي ناپلیون بوناپارت هم خلکو په مصر کي نه غوښته نو اړ شو چي له مصر څخه بهر شي، خو د چاپ ماشین او صنعت په مصر کي پرېږدي.
کله چي ناپلیون له مصره په وتو مجبور شو د مصر واکي محمد علي باشا ته ورسېدې او له عثماني خلافت سره یې پرېکون وکړ. یو له هغو لاملونو چي مصر په اسلامي او عربي نړۍ کي په زیاتو علومو کي سرلاری شو وروسته همدا د ازاد چاپ صنعت یې لوی لامل و او نور لاملونه لکه د محمد علي باشا نور اصلاحي پروګرامونه هم ورسره مل وو. د لمړي ځل لپاره د اسلامي علومو او دیني کتابونو د چاپ صنعت په مصر کي د « بولاق» په نامه چاپ خونه وه. په اسلامي نړۍ کي د بولاق د مرکز په مرسته چاپ شوي کتابونه د علمي کیفیت، دقت او اخځلیکونو په دقت کي سرلاري وو. مهم لامل یې دا و چي د دې مسولین عالمان و نه کار و باري خلک چي یوازې د پیسو لپاره کارکوي. دوی هر راز دیني کتابونه چي پخوا لیکل شوی و د احادیثو د کتابونو په ګډون لکه صحیح بخاري، فتح الباري، ابن کثیر او نور تصحیح او په بولاق چاپ خونه کي یې چاپ کړل. تر دې وروسته چي د نړۍ کنجونو ته چاپ رسېدلی و د لمړي ځل لپاره په دې ترتیب په قاهره، بغداد، دمشق او نورو لویو ښارونو کي په اسلامي نړۍ کي دا صنعت رامنځته او معرفي شو.
په دې وختونو کي په زیاته خواشینی سره د همداسي فکري تحجر؛ له واقعیتونو لېرې والي؛ د رسول الله، صحابه وو او تابعینو د کړنو خلاف چي ژور فکر او په شورایي نظام سره یې کار کاوه؛ د غلطو پالیسیو، د علومو د خورولو، مطلق العنانه واکمنی، رښتینو عالمانو او کارپوهانو ته غوږ نه نیولو، د نړۍ له حالاتو او انکشافاتو د بې خبرۍ او نه تحلیل له کبله عثماني خلافت یوازې په سمبولیک ډول پاته و او رښتینی واک او ځواک یې له لاسه ورکړې وو.
له همدې کبله په شپږو کلونو کي اتاترک یې بیخي لمن ورټوله کړه. موږ مسلمانان ځیني وختونه په خواشینی سره د خپلو ستونزو او غلطو پالیسیو ارزونه نه کوو او هر څه له بهره بولو، بهر نه شو کنټرولولئ او ځکه پاته راځو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

پخواشينې سره مسلمانان تاريخ نه لولي، د عثماني خلافت پخپل وخت کې ستري کارنامي درلودې، خو بيا د ډېر وخت لپاره د زوال په وخت کې هسې د زړې ورستي ونې د ډډ او ساقې په څېر و.
د ژباړن يادښت: « ما يو وخت يو کتاب چې نړيوال وتلي ترک ليکوال ليکلى او « ملتونه ولې ناکامېږي» نومېږي، ځينو کسانو ته معرفي کاوه. هلته هم د چاپ صنعت تحريم ته په عثماني خلافت کې اشاره شوې وه، خو زه نه وم وربانديې خبر، شک مې درلود، دا خبره مې زړه نازړه له ګډونوالو سره شريکه کړه، يو کس چې خورا نيک انسان دى خوابدى شو او ويې ويل چې دا ليکوال سم سړى نه دى. د دې ځوان د خوابدى لامل دا و چې ده نو فکر هم نه شو کولى چې په عثماني
خلافت کې به نو کوم کمښت و. د دې بې خبرۍ لامل دادى چې موږ په دې نه پوهېږو چې ستري او قدرتمندې امپراتورۍ، لوى لوى تمدنونه او تهذيبونه، که په ځان کې د بدلو عوامل ونه لري تر يو څو نسلونو وروسته له منځه ځي. تاريخ موږ ته دا راښيي«.
دعثماني خلافت دا زوال تصادفي نه و، يو خو څه شى نه و پکې پاته. بله خبره داده چې په نړيوال جنګ کې هم داسي پېښې وشوې چې د عثماني خلافت له زړښت څخه نړيوالو قوتونو ګټه واخيسته، په نړيوال جنګ کې د جرمني په ګټه ورګډ شو، همدې ورته زيات تاوان وکړ. رژيم هم ناتوانه او وروست شوى و، خليفه يوازې په نامه و، د ځوان ترکان يو خوځښت رامنځته شوى و، او نظامي جنرال مصطفى کمال په کوم جنګ کې ښه وځليده، د ځوانو ترکانو ملاتړ ورسره و، خلکو د رژيم ناتواني په ټول وجود درک کړې وه و او د ننګې څوک يې نه وو پاته، نو مصطفي کمال چې بيا د اتاتورک لقب خپل کړ عثمانی خلافت ته د پاى ټکى کېښود. همدارنګه د کاغذ صنعت او پراختيا او بيا يې له لاسه وتل او د چاپ صنعت تحريمول او حرام ګڼل د اسلامي امت په لوړوالي او عظمت او په زيات درد سره يې له نزول سره ټينګې اړيکې لري.
ولې مسلمانانو د چاپ صنعت حرام وګاڼه
دلته اصلي سوال دادى چې ولې مسلمانانو د چاپ صنعت حرام وباله او بنديز يې وربانديې ولګاوه ؟ په داسي حال کې چې پخوانيو مسلمانانو اوه سوه کاله شاوخوا مخکې د کاغذ صنعت له چينايانو د زده کړې او د ستر فکري، علمي، ديني، اقتصادي او فرهنګي پرمختګ تاريخ او فرهنګ هم درلود او هې يې ليدل چې په عمل کې اروپا څومره د چاپ له صنعت سره پرمختګ وکړ.
کېدى شي چې ځيني اقتصادي دلايل لکه څنګه چې ځيني کسان يې يادوي، يو څه به رښتيا وي. لکه چې که چاپ قبول شوى وى کاتبانو به دندې له لاسه ورکړې وې، نو دوى هڅه کوله چې د چاپ صنعت مخه ونيسي او واسطې او وسيلې يې کولې، له بلې خوا د لاتين ژبې په خلاف چې يو له بله بېل او جدا حروف لري، عربي حروف يو شمېر ترکيبي کليمي لري چې د چاپ لپاره يې ستونزې جوړولې، خو هغه چې وايې، چېرې چې سياسي اراده شتون ولري هلته نتيجې او لاسته راوړنې رامنځته کېږې، که اراده وى، خپله پانګوالو دا کار کاوه. که ښه بې مطالعه کړو هلته په پاى کې ډېرو کمو خلکو بلکه يوازې سلطان ټولې پرېکړې کولې، رښتينو عالمانو او کارپوهانو ته يې غوږ نه نيوه، نو ځکه له واقعيتونو څخه سلاطين لېرې شوي و او خلافت په مطلقه ملوکيت بدل شوى و او دا په زياتو رژيمونو کې يوه ستره بلا وې.
تر ټولو لمړى لامل د چاپ د تحريم دا و چې دايي د کافر تکنالوژي وبلله. مسلمانان دومره غافل او مغروره شول چې فکر يې کاوه دوى د نړۍ حاکمان وو، نړۍ ته يې دا او هغه وروښودل او دا خبره رښتيا هم وه، نو اوس له بېرونه د نوښت منل ورته توهين ښکارېده. دوى د خپلو تېرو نسلونو اوتېر تمدن په لاسته راوړنو دومره غافله شول چې خپل مغزونه يې د نويو بشري انکشافاتو په هکله وتړل. دې ته يې ونه کتل علم او پوهه هېڅکله يوازې د يوه نسل، قوم، تمدن او جغرافيوي سيمې، کوم ملک او امپراتورۍ ځانګړې لاسته راوړنه او کمال نه دى بلکه د تاريخ په هره مرحله کې دا هر څه د الله تعالى تخليق او ورکړه وه او هم د بشر د هڅو، فکر او هڅو پايله وه، او تل به همداسي وي.
بل دليل له هغوى سره دا و چې که دوى چاپ ته اجازه ورکړي، هر سړى به ليک او لوست او د ديني کتابونو ويل پيل کړي او اسلامي علوم به خراب کړي، چې په خواشينې سره دا وېره تر ننه هم د ځينو خلکو سره شته ده. دا وېره که جدي هم وي، خو حل لارى لري، نه ښايي چې پخپلو خلکو کې د علومو او پوهې د پرمختګ مخه ډب کړو. د دې ستونزې اصلي چاره داده چې د رښتينو هڅو او دعوت له لارې د ديني علومو اصليت او کيفيت وساتل شي نه چې خلک له علومو محروم شي. که د دوى تشويش ته وګورو داسي به وو، لکه د نن په اصطلاح چې مفتي ويکيپيډيا او شيخ ګوګل چې له ځانه فتواوې ورکوي. دوى فکر کاوه چې که د چاپ صنعت ته اجازه ورکړي، دا او هغه او ټول خلک به صحيح بخاري او ابن کثير ولولي او خلک به ګمراه شي.
البته دا ستونزه به تر يوې کچې اوس پېښه شوې وي، موږ به داسي خلک لرو چې له ګوګل او ويکيپيډيا څخه په نقل قول به فتواوې ورکوي. خو راځئ رښتيا ووايو، آيا موږ نه شو کولئ چې د رښتينو ديني عالمانو او داسي خپل سرو مفتيانو تر منځ توپير وکړو؟ بلکل کولئ شو. خلک به نظريات ورکوي او ديني دلايل به هم راوړي، خو که د ټولني اکثريت خلک لوستي وي او يو څه اساسي معلومات ولري، آيا د يوه رښتيني عالم او يوه تش په نامه د علميت د مدعي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

تر منځ توپير نه شي کولئ؟ په ديني مسايلو، لکه عقايدو، احکامو او معاملاتو کې د اعتبار وړ کسان په ټولنه او ملت کې معلوم وي او چې خبرې وکړي سرې له ورايه ورباندې پوهېږي چې څومره علميت لري. نو بيا هم که دا يوه ستونزه وي خو په يقين سره د عوامو منع کول د اسلامي علومو له زده کړې او د زده کړو له وسيلو لا زياتې نورې تلپاتې ستونزې زېږوي او ملتونه له پښو غورځوي.
زه ډاکټر نه يم خو باور کړئ چې د لايق او نالايق ډاکټر تر منځ توپير د هغه له تشخيص، خبرو او نسخې کولی شم او زه يقين لرم چې تاسو هم دا کار کولئ شئ. موږ باور کولی شو چې که هلته د چاپ صنعت ته وختي اجازه ورکړ شوې وی او ورسره يې د علمي درجو، د علمي فتواوو د ورکولو، د علمي مقامونو د ورکړې او د علمي او با اعتباره ليکنو او تاليفاتو د تاييد او يا رد لپاره مناسب معيارونه ټاکلي وی، نو تر بنديز او تحريم به زيات ګټور وی. موږ ګورو په نړۍ کې نن سبا د علمي ليکنو په هکله همدا کار کېږي. هر څوک په انټرنېټ کې ليکنې خپروي، خو پوهېږو چې د علمي او مسلکي اعتبار وړ ليکنې تر ډېره په معتبرو ژورنالونو کې خپرېږي، په ليکنه کې د موثقو اخځليکونو راوړل چې د هغو په مرسته علمي ليکنه برابره شوې وي د ليکنې په اهميت ورزياتوي.
د ژباړن يادښت: « زما يوه استاد يو وخت وويل چې نن سبا د کمپيوټري سفټورونو شتون يوه ستونزه رامنځته کړې ده چې په مرسته يې تخنيکران ډيزاينونه کوي، خو دوی چې د ارزونې توان نه لري، که ټکنالوژي تيروتنه وکړي دوی نه ورباندې پوهېږي.» نو اوس موږ نه شو کولی چې د کمپيوټر له زده کړې او سفټور له انکشاف او کارونې کار وانه خلو، بلکه داسې مقررات رامنځته شول چې دا تيروتنه اصلاح کوي.
د ګوګل او ويکيپيډيا په شتون کې د کره علمي ليکنو او نورو تر منځ په اسانه توپير کولی شو
نن هم که وګورو په ويکيپيډيا کې هر څه شته، يو شمېر عاجل معلومات ورنه اخيستلی او خپل معلومات ورباندې زياتولی شو، خو کم کارپوهان يې په خپلو ليکنو کې د اخځليکونو په توګه راوړي. همدارنګه، که ګوګل ته زيات خلک لاسرسی لري خو کم خلک پکې کره موضوعات موندلی شي. روښانه ده که موږ په يوه معتبر علمي ژورنال کې خپله ليکنه خپرېدل غواړو تر څو مو خپل معتبر موخذونه يا ريفرنسونه نه وي ښودلي او د علمي او څېړنيزو ليکنو ټول معيارونه مو نه وي مراعات کړي، ليکنه به مو په هغه معتبر علمي ژورنال کې قبوله او خپره نه شي. زيات لوستي کسان چې لږ او ډېر ليکل هم کوي، ګوګل ته هم لاسرسی لري، خو نه شي کولئ علمي معتبرې ليکنې وکړي. له همدې کبله زموږ اکثريت له پوهنتونه فارغان مونوګرافونه په نورو تجارتي کسانو ليکي.
د مسلمانانو نزول او د اروپائيانو عروج
په دې تايخ پوهانو او څېړونکو زيات تحقيق کړئ، او تثبيت کړې يې ده چې پخوا وختونه د اووه پيړيو نه زيات مسلمانان تر اروپائيانو په علومو، پوهه، فرهنګ، اختراعاتو، تمدن او هر څه کې زيات مخکې وو، د 1550 ام ز کال په شاوخوا وختونو کې او ورنه وروسته سره برابر شول، مسلمانانو تنزل کاوه خو ارړپائيانو پرمختګ ته دوام ورکړ. د 1600 کال په شاوخوا کې دا توپير خورا زيات او چټک شوی و. علت يې روښانه و چې د 1800 ام زکال په شاوخوا کې متوسط مسلمان ته نه په لاس ليکل شوی او نه چاپ شوی کتاب رسېدلی و، ځينو مورخينو چې دواړه مسلمان او غير مسلمان په کې شامل دي وايي چې که د مسلمانانو د ځوړتيا لپاره يو مهم لامل غواړو ذکر کړو هغه به د چاپ د صنعت تحريم وي، چې زه ورسره تر ډېره همغږی يم (داکتر ياسر قاضي). ځکه د چاپ له صنعت سره پوهه او علم راځي او له علم سره قدرت او اقتدار رامنځته کېږي. تاسو نن په ټوله نړۍ کې نظر وکړئ او وګورئ کوم بېعلمه ملت، قوم او ټولنه، بې د کتاب لوستلو، ليک او لوست مقتدر ملک جوړ‌ئ شئ؟ هر ډول قدرت که هغه اقتصادي وي، که سياسي او که ديني ټول له پوهې او علم له خوراوې سره تړاو لري.
د چاپ ماشين او صنعت دومره زيات اثر وکړ چې کاتوليکه کليسا يې په دوو برخو ووېشله، مارتين لوترکېنګ د چاپ صنعت درلوده او انجيل يې ورباندې چاپ کړ چې پخوا کاتوليکي کليسا چاته اجازه نه ورکوله. نو د وېښتيا يا رنسانس او پراخه اصلاحاتو رامنځته کېدل په اروپا کې د چاپ د صنعت له کبله رامنځته شول. نو د چاپ له صنعت سره قدرت او اقتدار رامنځته شو او اروپائيان يې د زيات قوت خاوندان او اوسنې حالت ته راورسول.
نو په پای کې بيا بايددتکرار کړو چې د مسلمانانو صعود او عروج په لمړي سر کې د معنويت، کلک ايمان او عقيدې زېږنده وه خو له بلې خوا هم مدرنيتې، نويو علمي او تکنالوجيکي نوښتونو ته پام او ورنه ګټه اخيستل، لا يې پنځول او وده ورکول، ورنه د خلکو او ټولنې د پرمختګ لپاره کار اخيستل و.
خو په خواشينې سره نزول يې هم د نورو يو شمېر لاملونو تر څنګ د چاپ د صنعت په تحريم، بنديز او حرام بللو کې نغښتی و. ځکه عام مسلمانان يې د کتاب، تحليل او تلپاتې ويښتيا څخه بې برخې کړل. موږ مسلمانان اوس هم له دې ستر رنځه کړېږو او ستونزمنه ښکاري چې کله به هم موږ دا کار وکړی شو او کنه او هغه بيا بېل بحث دی.
همدارنګه صحابه او تابعين رحمهم الله چې د قوي ايمان لرونکي او د دې امت لپاره الګو او تر ټولو ښه خلک وو خو د دې تر څنګ يې شرايط د امکاناتو او تکنالوژۍ له پلوه تر وروستيو نسلونو کم وو. خو د دوی قوي اراده چې له هره نوي امکان او نوښته سره يې مينه درلوده، په پټو سترګو يې نه ردول، ژوره مطاله يې ورباندې کوله او ورنه مثبت او د اسلام او خلکو په ګټه يې کار اخيسته. له همدې کبله ګورو چې دوی هر چېرې کتابونه نيول ساتل يې او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

که به ګټور و سمدلاسه یې د اړوندو کارپوهانو په مرسته عربي ته ژباړل او ورنه ګټه یې اخیسته او مثالونه یې هم زیات لرو.
له همدې کبله د حضرت عمر ابن خطاب رض له وخته چې نورې امپراتورۍ یې لاندې کړې په لمړیو وختو کې ټول محلي دولتي دواير او ليکنې په محلي ژبو وې، ځکه دوی د دولتدارۍ او دېوان کومه تجربه نه لرله. خو دوی یې په اهمیت پوه و او زر یې یو منظم نظام او سیستم رامنځته کړ. د امویانو په لمړي سر کې په هره نیول شوې سیمه کې د هغه ځای ژبه کارېدله او یوازې د امویانو په اخرو وختونو کې دوی عربي ژبه رسمي کړله، خپله کرنسي یا پولي نظام یې معرفي کړ، تر دې مخکې دوی د همغه ځای مروکې پیسې کارولې.
د مسلمانانو اوسنی حالت
اوس چې الحمد لله د مسلمانانو په افکارو کې زیات بدلون راغلی خو بیا هم موږ دوه افراطه لرو. لمړی افراط دادی چې زموږ یو شمېر خلک په مذهبي مسایلو کې دومره تنګ نظره دي چې هرڅه له پلار اونیکه ورته رسېدلي وربانديې ټینګ ولاړ دي او په بل عبارت دین او یو شمېر دودونه ورنه ګډ شوي دي. نن هم ان په شمالي امریکا کې داسې مسجدونه لرو چې ښځو ته د جمعې په لمانځه کې د ګډون اجازه نه ورکوي. تر اوسه په شمالي امریکا کې داسې ځینې مسجدونه شته چې په یوه ګوډه ماته پخواني عربي لهجه د جمعې مبارکې د لمانځه خطبه وایي. دوی باور لري چې دا دوی ته له پلرونو پاته ده. زموږ په یاد دي کله چې مایکروفون جوړ شو نو ویل یې چې موږ به یې ونه کاروو، کله چې رادیو او تلویزیون رامنځته شول دې راز کسانو ویل دا شیطاني آلې دي مه یې کاروئ، خو تاسې نړیوال تحولات په تکنالوژۍ کې نه شئ ردولئ او باید په هوښیارۍ ورنه کارواخلئ.
خو بل افراط دادی چې ځینې خلک ځانته مسلمانان هم وايي نو د دوی په اند هر څه چې خلک غواړي باید و یې منو، د نرو او ښځو بېلوالی او د یوه حد شتون نه مني، د همجنسانو ازدواج روا بولي او هر څه چې خلک غواړي په اسلام کې یې ومني. نو دا دواړه افراطه زموږ لپاره یوه ستره ستونزه ده. زموږ زیات کسان چې په دې دواړو خواوو کې دي ورځ تربلې له یو بله لېرې کېږي او پایلوته یې نه ګوري. نو باید داسې عالمان وي چې دا تشه ډکه او دا دواړه خواوې سره تفاهم ته راوبولي. خو باید ومنو ګې له دې مسلو سره سم مناسب او عقلاني چلند اسانه کار نه دی. دا علمیت، له الله تعالی وېره او تقوا خو او وسیع نظر غواړي تر څو داسې مسلو ته د حل لارې ومومو.
بیا هم که تاسو وپوښتئ چې ولې په عثماني خلافت کې دیني عالمانو هم د چاپ له صنعت سره مخالفت کاوه. اجازه راکړئ چې یو مثال راوړم چې زه یې په راتلونکي لنډ وخت کې عملي کول غواړم او کېدی شي ځینې له تاسو درنو دوستانو هم ورسره تشویش پیدا کړئ. مسله داده چې زه هڅه کوم چې په خپل جومات کې چې اوس په عربي او انګرېزي دواړو ژبو خبرې کوم، خو قرآني آیتونه به په عربي تلاوت کوم خو ژباړه به یې په انګلیسي کوم او د دې تر څنګ به پاورپاینټ پرېزنتشن هم کاروم او موخه داده چې د لمونځ کوونکو پاملرنه خطبې ته راجلب او هغوی ته یې فهم اسانه کړم، د محراب په دواړو خواوو کې به غټ سکرینونه وي او لمونځ کوونکي به یې په اسانۍ سره لیدئ او تعقیبولئ شي. تاسو پوهېږئ چې کله په لمړي ځل دا کار څوک وکړي له زیاتو غبرګونو سره به مخ شي.
زیات به دا بدعت او ناروا وبولي خو زه باور لرم چې په کراره به یې زیات امامان او لمونځ کوونکي ګټو ته پام وکړي او وبه یې مني. نو د چاپ خبره هم همداسې وه. ځینې به ووایي چې سبا به په ویډیو خطبه ورکوئ او نور.
خو باید ومنو چې په دې به دیني جیېد علما بحث او څېړنه کوي او د شریعت په رڼا کې روا او ناروا به ټاکي. زه به انشا ء الله د اسلامي مرکز بورډ او رهبري هیئت ته دا عرض کوم، اجازه به یې اخلم، خو زه تر اوسه نه پوهېږم چې رهبري به یې ومني او کنه او انشا ء الله که ومنل شي نو په نوي مسجد کې به یې پیل کوو. ورونو او عزیزانو زه باور لرم چې دا کار به نن یا سبا څوک کوي.
په پای کې د اسلام مبارک دین الله تعالی رالیږلی چې تر قیامته په هر ځای، هرو شرایطو او وخت کې د قبلېدو او پلي کېدو وړ دی، له همدې کبله اسلام ماشا ء الله له الاسکا تر سایبریا خپور شوی او لا به خورېږي خو له موږ نه هم له شرایطو سره سم د دین او شریعت په چوکاټ کې تدبیر ته اړتیا ده چې علما به مو رهبري کوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ